# د کورنیو د یوالي تولګه

## مدیریت د ماشومان او کورنۍ لپاره

**Office of Refugee Resettlement** | 330 C Street, S.W., Washington, DC 20201
www.acf.hhs.gov/programs/orr

## د UC د جنسي ناوړه ګټه اخیستنې د ټېلفون شمېره (1-855-232-5393)

که چېرې تاسې بې سرپرست ماشوم، د کورنۍ غړی، مالي ملاتړی، د حقوقي خدماتو وړاندې کوونکی، د ماشوم وکیل او یا بل هر څوک یاست او د زور زیاتي مشکوکه پیښه او یا د جنسي ځورونې پیښه ګورئ نو د UC د جنسي ناوړه ګټه اخیستنې دې شمېرې 1-855-232-5393 سره اړیکه ونیسئ او یا هم د کډوالو بیا مېشتېدو (ORR) دفتر، د کورنیو او ماشومانو اداري، د امریکا د روغتیا وزارت د انساني خدماتو وزارت (HHS) سره خپل معلومات شریک کړئ.

ORR د خپلو شبکو له لارې د هغو بې سرپرسته ماشومانو چې کورنۍ نلري او په غیر قانوني ډول امریکا متحدو ایالتونو ته دننه کېږي او د کورنۍ امنیت وزارت له لوري نیول کېږي او بیا ORR ته یې تسلیموي د هغوئ پالنه او روزنه کوی.

ORR او همداراز د پالنې او روزنې ټیم هغو بې سرپرسته ماشومانو ته چې خدمات واندې کوي نو د ماشومانو د جنسي ځورونې او جنسي ناوړه ګټه اخیستنې پر وړاندې د صفر زغم پالیسي لري. هر هغه کس چې د جنسي ځورونې او یا زور زیاتي پیښه چې د ترسره کېدو په حال کې ده هغه که چېرې د ماشومانو د پالنې او خدماتو په مرکز کې هم وي نو د UC جنسي ناوړه ګټه اخیستنې له دې شمېرې 1-855-232-5393 سره اړیکه ونیسي.

د UC د جنسي ناوړه ګټه اخیستنې د ټیلفون لیکه هر هغه ادعا چې د ماشومانو د ځورونې او زور زیاتي پیښې په اړه له دریم کس څخه ترلاسه کوي، هغه د ماشومانو ساتنې له دولتي خدماتو مرکز (CPS) او سیمه ایېز امنیتي دفتر، او HHS سره یې شریکوي.HHS د ټیلفون هر راپور د ماشوم مناسب پالوونکي او روزونکي ته وړاندې کوي او ورته ډاډ ورکوي چې ماشومان او تنکي ځوانان ټول خوندي اوسي، ورته مناسب خدمات وړاندې کېږي او په دې اړه ټول راپورونه وړاندې شوي دي.

د ټیلفون اړیکه په مستقیم ډول په ژوندۍ بڼه له هغو استازو سره وصل ده چې په دوه ژبو اسپانیوی او انګلیسي پوهېږي او کوچنیو ماشومانو سره په خبرو اترو کې کافي تجربه لري. د نورو ټولو ژبو لپاره د ژباړونکي خدمات وړاندې کېږي. د اړتیا په صورت کې راپور ورکوونکی کولای شي د خپل هویت په پټ ساتلو سره خبر ورکړي.